# والدینِ مصطفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

28-October-2021



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو**! چې کله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِیَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو کیږي.

یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

# والِدَینِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

حضرت محمد بن عبدالله سمرقندي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: زما نه یوه ورځ لاره هیره شوه: " ناڅاپه یو صاحب په نظر راغے او هغوئي اووئیل: زما سره راځه. " زه د هغوئي سره روان شوم، ما دا ګمان اوکړو چې دا خضر عَلَيْهِ السَّلَام دے. زما په تپوس باندې هغوئي خپل نوم خِضر اوښودلو، د هغوئي سره یو بل بزرګ هم وو، ما د هغوئي د نوم تپوس اوکړو نو اوئې فرمائیل: دا الیاس عَلَيْهِ السَّلَام دے. ما عرض اوکړو: الله پاک دِ په تاسو رحمت اوفرمائي، آیا تاسو دواړو د الله پاک د محبوب، آخري نبي، مکي مدني، محمد عربي

صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زیارت کړے دے؟ هغوئي اوفرمائیل: آؤ. ما عرض اوکړو: چې د حضور صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوریدلے ارشاد راته بیان کړئ چې زه ئې ستاسو نه روایت کړم. هغوئي اوفرمائیل: چې مونږ د الله پاک د حبیب صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوریدلي دي چې کوم کس په ما باندې درود شریف اولولي د هغه زړۀ د نفاق نه داسې پاک کړے شي لکه څنګه چې په اوبو کپړه پاکه کړے شي او چې کوم کس "صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد" اُووائي نو هغه د خپل ځان د پاره د رحمت اویا دروازے بیرته کړي. (القول البدیع، ص 277، جذب القلوب، ص 235)

| | |
|---|---|
| عاصیو جُرم کی دوا ہے دُرود | کیا دوا عینِ کیمیا ہے دُرود |
| ایک ساعت میں عمر بھر کے گُناہ | کرتا معدوم اور فنا ہے دُرود |
| چھوڑیو مت دُرود کو کافی | راہِ جنت کا رہنما ہے دُرود [1] |

د اشعارو مختصر تشریح: اے ګناه ګارو درود شریف د هر جرم علاج دے بلکه د جرم په معافۍ کښې داسې یو نادره څیز دے چې په یو ساعت کښې د ټول عمر ګناهونه ختموي لهٰذا اے کافي! درود شریف وئیل مه پریږده ځکه چې د جنت د لارې د پاره دا د رهنما حیثیت لري.

خوږو اسلامي وروڼو! د دې اشعارو لیکونکے مولانا کفایت الله کافي شهید رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دے چاته به چې امام اهلِسنت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د نعتونو سلطان وئیلو لکه څنګه چې هغوئي فرمائي:

کافی سلطانِ نعت گویاں ہے رضا	اِنْ شَآءَ اللّٰہ میں وزیرِ اعظم

یعني مولانا کافي ته ئې د نعتونو سلطان اووئیلو او خپل ځان ته ئې د عاجزۍ په طور د

---

1 ...نعتِ کافی، ص ۳۹، ماہنامہ نعت لاہور۔

دې فن وزيرِ اعظم اووئيلو.

مولانا کفايت الله کافي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه په تحريکِ آزادئ 1857 کښې د جهاد فتوٰي ورکولو باندې ګرفتار کړے شو او د سخت تکليفونه ورکړے شُو، په جسم ئې ورته ګرمې استرياني اوګرځولې. په زخمونو باندې ئې ورله مالګې واچولې او آخر کار دې عاشقِ صادق له په چوک مراد آباد کښې د ټولو خلقو په مخکښې پانسي ورکړے شوه. د شهادت نه تقريباً 35 کاله پس د مولانا کافي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه قبر کولاؤ شو خلقو اوليدل چې د هغوئې جسم صحيح سلامت وو داسې لکه اوس چې کفن ورکړے شوے وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: " اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے.[1]

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

❁ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوکړئ او نور دا نيتونه اوکړئ چې ❁ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❁ چې څومره کيدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې کښينم ❁ د علم

[1] ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❀ د بیان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بیان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

## د نور نه ځلیدونکے مخ

د اللّٰه پاک د آخري نبي، محمد عربي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نیکهٔ حضرت عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خوب اولیدلو: یوه ونه ده چې هغه په اوچتوالي کښې اسمان ته رسي او خاخونه ئې د مشرق او مغربه پورې خوارهٔ شوي دي، د هغې نه د نور یوه رنړا ښکاریږي چې د هغې رنړا د نمر د رنړا نه اویا چنده زیاته ده، عرب او عجم د دې په وړاندې په سجده دي او لمحه په لمحه د دې نُور زیاتیږي، د قریشو یوه ډله د دې په خاخونو پسې انښتې ده او بعضې قریش د دې د پریکولو کوشش کوي خو چې څنګه دوئي د ونې خواه ته ځي یو ښکلے ځوان دوئي شاته دیکه کوي، د حضور صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نیکهٔ حضرت عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما د هغه نه زیات ښکلے ځوان چرته نه دے لیدلے، او نه مې د هغه د خوشبو نه ښکلے خوشبو بوئي کړې ده، د قریشو هغه خلق چې ونه پریکول غواړي، دا ځوان د هغوئي پوښتئ ماتَوِي او د هغوئي سترګې ړندوي، چې سترګې ئې اُوغړیدلې نو د حضور صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نیکهٔ حضرت عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ډیر زیات ویریدلے وو، د مخ رنګ ئې هم بدل شوے وو، په دې کیفیت کښې په ویره ویره کښې د قریشو یو خوب بیان کوونکي خواه ته اورسیدو، هغه ته چې ئې خوب بیان کړو نو د هغه هم رنګ هُم اوتښتیدو، بیا هغه اووئیل: که دا خوب رښتیا وي نو ستا په اولاد کښې به یو کس د مشرق او مغرب مالک وي، او خلق به د هغه پیروي

کوي..[1]

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نيکۀ حضرت عبد المُطلِّب رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ دا خوب ريشتونے ثابت شو، څه وخت پس هغوئي د فاطمه بنت عمرو مخزوميه سره نکاح اوکړه، د هغې نه والدِ مصطفي حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ پيدا شو، او بيا د عبدالله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په کور کښې مالکِ دوجهان، نورِ خدا، احمدِ مجتبيٰ، محمدِ مصطفيٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو.

خدا نے بھیج کے نورِ نبی کو آپ کے گھر بتادیا ہمیں راشد ہیں پیارے عبداللہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** ولے چې د **الله** پاک د آخري نبي **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په تندي کښې وو ځکه حضرتِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې کله حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پدا شو نو مخ مبارک ئې دا سې حليدلو لکه لمر چې ځليږي، والِدِ مُحترم حضرتِ سَيِّدُنا عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ چې اوليدلو نو اُوئې فرمائيل: د دې ماشوم ډير ښکلے شان دے.[2]

## د حضرت عباس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ايمان تازه کوونکے خوب

حضرت عباس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: ما خوب اوليدو چې د حضرت "**عبدالله**" رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ د جسم نه يوه سپينه مرغۍ والوَته او د مشرق نه مغرب ته اورسيده او بيا خانه کعبے ته راغله او کښيناسته، ټول قريش د هغې په وړاندې په سجده شو بيا هغه د زمکې او اسمان په منيځ کښې په اَلوَتو شوه. د قريشو يو خوب بيان کوونکي د خوب

1 ...دلائل النبوۃ، الفصل السادس، توقع الکهان وملوك الارض بعثته، جزء: اول، ص٥٤ ملتقطًا.

2 ...خصائص الکبری، باب ماظهر فی ليلة مولده صلی الله عليه وسلم ...الخ، /ملتقطًا.

په تعبیر کښې اووئیل: دا خوب ریشتونے دے د حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ په کور کښې به څوئ پیدا کیږي، د مشرق او مغرب خلق به د هغوئي پیروي کوي.[1]

نبی کے صدقے میں کیا کیا عنایتیں نہ ہوئیں

ہو چشمِ عدل تو شاہد ہیں پیارے عبداللہ

یعني والدِ مصطفي حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ باندې الله پاک د آخري نبي صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت ډیر عنایتونه فرمائیلي دي که د انصاف په نظر اوکتلے شي نو په دې عنایتونو باندې د حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ ذات ګواه دے.

خوږو اسلامي ورونړو! والدِ مصطفي حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ بےشکه و شبهه پاک صفا او د بنو هاشم نیک سیرته او ښکلے ځوان وو. په ښکاره حسن و جمال او باطني صفاتو او اخلاقو کښې قریش څه بلکه ټوله وادي بطحا یعني مکه مکرمه کښې د هغوئي ثاني نه وو. د اعلٰي اخلاقو پیکر وو. او ولے به نه وو چې د یوے داسې هستئ والدِ محترم جوړیدو والا وو، د چا په ذریعه چې دنیا په علم و عمل باندې روښانه کول وو. هغه څوک چې دنیا ته ئې د انسانیت عزت و وقاراو احترام او د دوانړو جهانونو دخوشحالئ او کامیابئ زیرے راوړلو.

۞ د والدِ مصطفٰي رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ شان اوګورئ چې هغوئي ته هغه حسن و جمال ورکړے شو کوم چې د قریشو په نورو خلقو کښې نه وو، ۞ د والدِ مصطفٰي رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ شان اوګورئ چې په نیکو صفتونو کښې د هغوئي ثاني څوک نه وو، ۞ د والد مصطفٰي رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ شان اوګورئ چې د هغوئي نه به دوه نوره راختل یو به مشرق او بل به مغرب پټولو، ۞ د والد مصطفٰي رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ شان اوګورئ چې هغوئي به د کومې وچې ونې د

1 ...خصائص الکبری، باب ماظهر فی لیلة مولده صلی الله علیه وسلم...الخ، ۸۳/۱.

لاندې کښيناستلو نو هغه به تڪه شنه شوه او د هغوئي د پاره به راښکته شوه، د والد مصطفٰي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ شان اوګورئ چې هغوئي به د لات و عُزّٰي بتانو په خواه کښې تيريدلو نو د هغي [بُتانو] نه به د پيشو د چغو په شان آوازونه راتلل د والد مصطفٰي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ شان اوګورئ چې الله پاک د هغوئي مدد اوکړو چې په اسونو سواره مخلوق ئې راوليږلو او په هغوئي باندې حمله کوونڪي ئې اوزغلول او هغوئي ئې په حفاظت سره کور ته اورسول.

والدِ مصطفٰے جنّتی جنّتی
مادرِ مصطفٰے جنّتی جنّتی
والدینِ مصطفٰے جنّتی جنّتی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ رسول! والدِ مصطفٰي حضرت عبدالله رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د ذبيح په لقب هم ياديږي، راځئ چې د دې لقب وجه واورو.

## "ذبيح" لقب ئې ولے شو؟

يوه ورځ د حضور نيکهٔ حضرت عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په حطيمِ پاک کښې آرام فرما وو، چې په خوب کښې حڪم اوشو اِحْفِرْ زَمْ زَمْ يعني د زم زم کوهے اوکنه! کوم چې کلونه مخکښې بند کړے شوے وو، او ورسره د ځائے نشاني هم بيان کړے شوه. هغه وخت کښې د هغوئي يو ځوئ حارث وو، هغه ئې ځان سره کړو او کنستل ئې شروع کړل، چا هم په دې نيک کار کښې د هغوئي ملګرتيا اونڪړه، قريشو پکښې اُلټه رُکاوټ جوړ کړو بلکه بعضې بےوقوفو هغوئي ته تڪليف هم ورسولو، دغه وخت کښې هغوئي منښته اوکړه چې الله پاک ماله لس ځامن راکړي کوم چې زما مددګاران وي نو

زه به د هغوئي نه يو د شُكرانے په طور ذبح كووم.[1] امام جلال الدين سيوطي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: كوم نورِ مصطفٰي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د عبد المُطَّلِب په تندي كښې روښانه وو، د هغې په بركت هغوئي ته د داسې منښتې كولو اِلهام اوشو.[2]

د دې واقعې ديرش كاله چې تير شو.[3] نو د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نيكه حضرت عَبۡدُ الۡمُطَّلِب رَضِیَ اللهُ عَنۡه خواهش پوره شو، **الله** پاك هغوئي ته لس ځامن عطا كړل. يوه ورځ حضرت عَبۡدُ الۡمُطَّلِب رَضِیَ اللهُ عَنۡه د كعبے شريفې خوا ته نِزدې آرام كولو، خوب ئې اوليدلو، يو وينا كوونكے وائي: اے عَبۡدُ الۡمُطَّلِب! خپله منښته پوره كړه...!! حضرت عَبۡدُ الۡمُطَّلِب رَضِیَ اللهُ عَنۡه رابيدار شولو، ټول ځامن ئې راجمع كړل او هغوئي ته ئې د خپلې منښتې مُتَعَلِّق اووئيل، ټولو ځامنو په ادب سره عرض اوكړو: پلاره! خپله منښته پوره كړئ، په مونږ كښې چې كوم يو غواړئ تاسو قربانولے شئ.

روايت دے چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم والِدِ مُحتَرَم حضرت عَبۡدُ الله رَضِیَ اللهُ عَنۡه د ټولو نه اوَّل د حضرت عَبۡدُ الۡمُطَّلِب رَضِیَ اللهُ عَنۡه اطاعت اوكړو او خپل ځان ئې د قُربانۍ د پاره پيش كړو خو حضرت عَبۡدُ الۡمُطَّلِب رَضِیَ اللهُ عَنۡه خپلو ټولو ځامنو ته اوفرمائيل: په غشو باندې خپل خپل نوم اوليكئ او ما ته ئې راكړئ! ټولو ځامنو فوراً په حكم باندې عمل اوكړو، حضرت عَبۡدُ الۡمُطَّلِب رَضِیَ اللهُ عَنۡه هغه ټول غشي واخستل، د خانۀ كعبے شريفې خادم ته ئې وركړل او ورته ئې اوفرمائيل: په دې كښې قُرعه اندازي اوكړه! او پخپله حضرت عَبۡدُ الۡمُطَّلِب رَضِیَ اللهُ عَنۡه په دُعا كښې مَصروف شولو، د **الله** پاك په

---

[1] ...شرح الزرقانی علی المواھب، المقصد الاول...الخ، ذکر حفر زمزم...الخ، ۱/۱۷۲-۱۷۳ ملخصًا.

[2] ...رسائل امام جلال الدین، مسالك الحنفا...الخ، المسلك الثانی، ص۳۸.

[3] ...سبل الھدی، جماع ابواب نسبه...الخ، الباب الرابع فی شرح اسماء آبائه...الخ، ۱/۲٤٤.

بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: يَـا اِلٰـهي! ما د يو بچي قربانولو منښته کړې ده، ته چې کوم خوښوے، په قُرعه اندازئ کښې د هغه نوم را اوباسې.[1]

د خوږ نبي والِدِ ماجِد حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہ عَنْه په ټولو وروڼړو کښې وړوکے هم وو او حضرت عَبْدُ الْمُطَّلِب رَضِیَ اللہ عَنْه ته د ټولو نه زيات ګران هم وو خو د الله پاك قُدرَت ته اوګورئ چې په قُرعه اندازئ کښې د حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہ عَنْه نوم را اُوختلو. الله! الله...!! حضرت عَبْدُ الْمُطَّلِب رَضِیَ اللہ عَنْه خپل ربّ سره کړي وعده پوره کولو د پاره پوره جذبه کښې وو، د "الله د مَحبَّت" پرې دومره غلبه چې په يو لاس ئې د حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہ عَنْه مټ اونيولو او په بل لاس کښې ئې چاړه را واخستله او د منښتې پوره کولو د پاره تيار شو.

اے عاشقانِ رَسُول! ځوئ او هغه هم د ټولو نه خوږ، او بيا په خپلو لاسو ذبح کول، زړه دا څنګه برداشت کولے شي خو قربان شم چې! د دې خاندان عجيبه شان دے! په سوونو کاله وړاندې د دې خاندان د نيکونو نيکه حضرت اِبراهيم خَلِيلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د عربو په دې شګلنه زمکه باندې د الله د مَحبَّت په غلبه کښې د خپل خوږ شهزاده حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په مرئ چاړه ايښودې وه او د الله پاك د مَحبَّت په ازميښت کښې کامياب شوے وو او ټول جهانونه ئې حيران کړي وو، نن د هغوئي شهزاده عَبْدُ الْمُطَّلِب رَضِیَ اللہ عَنْه بيا د هُم هغه قِصّے تازه کولو د پاره تيار دے، الله! الله!...!! نه ئې په تَندي کښې څه ګونجه، نه ئې په سترګو کښې څه لـمدوالے، اګرچې د پلار زړه دے خو د الله په عِشق کښې داسې مضبوط دے چې نه ئې د زړه حَرَکت بےواره کيږي او نه ئې لاس ريږيږي، او ورسره حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہ عَنْه ته اوګورئ! د الله پاك په مَحبَّت

[1]...شرحِ زُرقانی علی مواہب، مقصد: اول، ذکر: حفر زمزم، جلد: 1، صفحہ: 176تا177 خلاصةً۔

کښې داسې فنا وو چې نه څه خطر لرې او نه څه وِیره، په تندې مبارک کښې ئې د خورِ آقا، سُلطانِ دوجهان صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور ځلیږې او د خپل نیکه حضرت اسماعیل عَلَیْہِ السَّلَام په سُنَّتو باندې عمل کولو د پاره مکمل تیار دے.

نِزدې وه چې حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ د خپل خورِ شهزاده په مرئ چاړه راښکلے وے او منښته ئې پوره کړے وے او زمکه او اسمان ئې حیران کړې وے خو د قریشو سرداران په مینځ کښې راغلل او په ډیره عاجزئ او مِنَّت زارئ ئې عرض اوکړو: اے سرداره! د څه اراده لرې؟ هغوئي اوفرمائیل: خپل ځوئ قربانووم. هغوئي اووئیل: مونږ به تاسو هیڅ کله داسې کولو ته پرېږ نه دو، تاسو د خپل ربّ په بارګاه کښې عُذر پیش کړئ! نن که تاسو ځوئ قربان کړو نو ټول به ستاسو پیروي کوي او هم دا طریقه به رائج شي. (1) حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ په ډیره زیاته جذبه کښې اوفرمائیل:

عَاهَدْتُهٗ وَاَنَا مُوْفٍ عَهْدَهٗ | وَاللّٰهِ لَا يُحْمَدُ شَيْءٌ حَمِدَهٗ

د الله پاك د حمد و ثنا په شان حمد و ثنا د بل چا نشته، په الله مې دِ قَسَم وي! زه به د خپل ربّ کریم سره کړې وعده ضرور پوره کووم.

اِذَا كَانَ مَوْلَايَ وَكُنْتُ عَبْدَهٗ | نَذَرْتُ نَذْرًا لَا اُحِبُّ رَدَّهٗ

هغه زما مولا دے، زه د هغه بنده یم او ما د هغه د پاره منښته کړې ده، نو زه د هغې خلاف کول نه خوښووم.

وَلَا اُحِبُّ اَنْ اُعِيْشَ بَعْدَهٗ (2)

که زه داسې اوکړم [یعني وعده پوره نه کړم] نو بیا زه د ژوند هیڅ شوق نه لرم.

---

1...شرحِ زُرقانی علی مواہب، مقصد: اول، ذکر: حفر زم زم، جلد: 1، صفحه: 177تا178۔

2...اعلامُ النُّبُوَّة، باب: ثامِن عَشر، صفحه: 162۔

د حُضُورِ اکرَم نيکه حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ د خپل ځوئ قربانولو د پاره تيار دے خو د قُريشو سرداران رُکاوَټ جوړ شو، خبرې اوکړدې شوے، آخر دا فيصله اوشوه چې د "خَيبَر" اوسيدونکے يو کس (کوم چې هغه وخت په راڼجو علومو کښې ډير ماهر وو هغه) به فيصله اوکړي. ټول خيبر ته اورسيدل، هغه کس ته ئې ټوله خبره اوکړه، هغه چې پوره واقعه واوريدله نو د يوے ورځې مُهلَت ئې اوغوښتلو، بيا صبا له ئې خپله فيصله واوروله، هغه اُووئيل: اے د مکے خلقو! ستاسو په ځائے کښې دِيَت (يعني د مړي د وينې فِديه) څومره ده؟ هغوئي اووئيل: لس اوښان. هغه علم لرونکي کس اووئيل: مکے ته بيرته لاړ شئ او د عبدُ الله اَو د لسو اوښانو په مينځ کښې قُرعه اندازي اوکړئ، که د عبدُ الله نوم را اووتلو نو د اوښانو شمير زيات کړئ، تر څو پورې چې په قُرعه اندازئ کښې د اوښانو نوم نه وي راغلے، د اوښانو شمير زياتوئ، چې کله د اوښانو نوم را اوخيژي نو پوهه شئ چې د عبدُ الله په فِديه کښې د دومره اوښانو په قُربانولو باندې ستاسو ربّ راضي دے. ټولو دا فيصله اومنله، چنانچه ټول مکے مکرمے ته بيرته راغلل او قُرعه اندازي شروع شوه، اوَّل لس، بيا شل، بيا په ديرشو اوښانو باندې قُرعه اندازي اوشوه، هر ځل به د عبدُ الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نوم راوتلو، په قُرعه اندازئ کولو کولو چې د اوښانو شمير سلو ته اورسيدو نو په قُرعه اندازئ کښې د اوښانو نوم را اُووَتلو، قُريشو اووئيل: بس! اے **عَبْدُ الْمُطَّلِب**! ستاسو ربّ په سلو اوښانو باندې راضي دے. حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ اوفرمائيل: زه **مُطْمَئِن** نه يم، وَاللّٰهِ (يعني په **الله** مې دِ قَسَم وي)! زه به درې ځله قُرعه اچووم. چنانچه درې ځله قُرعه اندازي اوشوه او درېواړه ځله د سلو اوښانو نوم را اووتلو. نو هله حضرت **عَبْدُ الْمُطَّلِب** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ

مُطْمَئِن شو او د حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہُ عَنْہ په فِديه کښې ئې سل اوښان قُربان کړل او د الله پاك شُکر ئې ادا کړو.(1)

د دې واقعے نه پس د حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہُ عَنْہ لقب "ذَبِيْح"(يعني د الله پاك په بارګاه کښې خپل ځان د قُربانۍ د پاره پيش کوونکے) مشهور شو. حضرت اَمِير مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ عَنْہ فرمائي: يو اَعرابي په بارګاهِ رِسالَت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو او اوئې وئيل: يَا اِبْنَ الذَّبِيْحَيْن! اے د دوو ذبيحانو ځويه! رَسُولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې دا واوريدل نو مُسکے شو. د حضرت اَمِير مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه تپوس اوکړے شو: دا دوه ذَبيحان څوك دي؟ اوئې فرمائيل: يو حضرت اسماعيل عَلَیْہِ السَّلام او دويم د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم والِدِ مُحتَرَم حضرت عَبْدُ الله رَضِیَ اللہُ عَنْہ دے.(2)

| | |
|---|---|
| میں ہوں ابنِ دو ذبیح ارشاد حضرت نے کیا | یعنی اسماعیل جو جدِّ عرب ہیں بَرمَلا |
| اور عبد اللہ جو ہیں والدِ خیر الوریٰ | ذبح کرنے کے لیے تھا باعثِ الہام کیا |
| اس میں ایک نکتہ ہے یعنی جس کے ہوا ایسا پِسَر | باپ دادا چاہیے قرباں ہوں اس پر سربَسَر(3) |

والدِ مصطفٰے جنتی جنتی
مادرِ مصطفٰے جنتی جنتی
والدینِ مصطفٰے جنتی جنتی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1...شرحِ زُرقانی علی مواہب، مقصد: اول، ذکر: حفر زمزم، جلد: 1، صفحه: 177تا178 خلاصةً۔
2...مستدرک، کتاب: تواریخ، باب: بیانِ اختلاف، جلد: 3، صفحه: 424، حدیث: 4090۔
3...سیرتِ والدینِ مصطفٰی، ص۵۰۔

## د انسان په قدر و قیمت کښې زیاتوالے

**خوږو اسلامي وروڼو!** د خاندانِ مصطفٰي شان اوګورئ چې د الله پاک په بارګاه کښې د خپلې خبرې پوره کولو جذبه او په هغې کښې د کموالي ئې داسې ویره لرله چې په یو ځل قُرعه باندې ئې خبره ختمه نه کړه او خپل مال ته ئې اُونه کتل بلکه د الله پاک په بارګاه کښې کړې مَنښته باندې ئې نظر وو او درې ځله ئې قرعه واچوله او زړه ئې مطمئن کړو او بیا ئې سل اوښان ذبح کړل د الله پاک په بارګاه کښې دا عمل دومره خوښ کړے شو چې په اُمتِ محمّدیه کښې د انسان دِیَت (د قتل فدیه) دا مقرره شوه. لکه څنګه چې

حضرت ابن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا فرمائي: په عربو کښې دِیَت لس اوښان وو، د ټولو نه اول حضرت عبدالمُطلب سل اوښان ذبح کړل، د دې نه پس دا طریقه رائج شوه، رسول الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم دا برقراره اوساتله.

## څه! مونږ ته د الله په لار کښې وقف کړې...!!!

یاد ساتئ! په مونږ کښې د چا د پاره هم جائز نه دي چې هغه خپل اولاد ذبح کړي او د الله په لار کښې د هغه قرباني ورکړي. بالفرض که چا څه خوب هم اولیدو نو د امتي د خوب هیڅ شرعي حیثیت نشته چې په هغې باندې عمل کول واجب وي.

**اے عاشقانِ رسول!** تاسو د حضرت عبدالمُطلب او حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا د قربانۍ جذبه اولیده. کاش! چې زمونږ په زړونو کښې هم د الله پاک او د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مینه داسې راسِخه شي چې ځان و مال، آل و اولاد، وخت، دولت څه هم د الله پاک په لار کښې قربانولو نه بالکل نه وروستو کیږو.

اے عاشقان صحابه! خپل اولاد وقفِ مدینه کړئ، په **جَامِعَةُ الْمدِینه** کښې ئې داخل کړئ، هغوئي لمونځ ګزاره، پرهیزګار، د سنتو پابند، کلک دینداره، مبلغِ دعوتِ اسلامي، د

مدني قافلو مسافر جوړ کړئ او د دين د خدمت کولو سعادت حاصل کړئ....!!

اے کاش! چې مونږ ته پخپله هم او زمونږ اولاد ته هم د علمِ دين زده کولو او ښودلو شوق رانصيب شي، زمونږ وخت او زمونږ مال د دينِ اسلام د سربلندئ د پاره قبول شي. بعضې وخت داسې هُم کتلے کيږي چې خلق د خپل اولاد د نيک عمله او لمونځ گزاره جوړيدلو دعاګانې کوي خو د دې سره سره د خپل ځان په باره کښې هُم غور پکار دے چې زه کومې دعاګانې د خپل اولاد د پاره کووم، آيا ما ته د نيک جوړيدلو حاجت نشته، آيا ماته هم لمونځ په پابندئ سره کول نه دي پکار؟ آيا ماته هم صحيح قرآن پاک لوستل نه دي پکار؟ چې مونږ خپل دا ذهن جوړ کړو چې ماته هم جنت ته بوتلونکي اعمال اختيارول پکاردي او خپل اولاد هم د جنت په لار روانَول پکاردي زمونږ د بزرګان دين تعليم او عمل دا وو چې هغوئي به د خپل اولاد ديني تربيت په داسې انداز کولو چې که هغه به ئې د الله په لار کښې وقف کړو نو خپل ځان ته واپس رابلل به ئې هم ښه نه ګنړل او هغه ته به ئې د الله په لار کښې د اوسيدلو تاکيد کولو لکه څنګه چې

## د الله پاک په نوم چې ئې وقف کړئ نو واپس ئې مه اخلئ

د حضرت سيّدنا سفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه عمر چې کله پينځلس کاله شو نو خپلې مور ته ئې عرض اوکړو:" اے مورجانې! ما د الله پاک په لار کښې وقف کړه" مور ورته اووئيل: "اے زما ځويه! بادشاهانو ته هغه څيز په تحفه کښې ورکولے شي کوم چې د هغوئي شايانِ شان وي، په تا کښې داسې هيڅ صفت نشه چې د الله پاک د شان مطابق وي." هغوئي ته حيا ورغله او په کور کښې ئې د خپل ځان د پاره يوه کمره خاص کړه او په هغې کښې ئې پينځه کاله پورې عبادت کولو. يوه ورځ چې کله والدهٔ محترمه د هغوئي خواه ته ورغله، نواوئې کتل چې ځوئے ئې په عبادت کښې مشغول دے او د سعادت آثار پرې ښکاره دي، مور ته يقين اوشو چې اوس زما ځوئے د دې قابل دے چې د الله

پاک په بارګاه کښې ئې پيش کولے شم نو هغۀ نيک سيرته مور په تندي باندې ښکل کړو او ورته اوئې فرمائيل:" اے زما څويه! اوس زه تا د ربِّ کريم په بارګاه کښې وقف کووم. " د مور اجازت ملاويدل وو چې هغوئي د الله پاک په لار کښې سفر شروع کړو، لس کاله ئې په سفر کښې تير شول او د عبادت نه به ئې لذت حاصلولو. يوه ورځ د هغوئي په زړه کښې د خپلې مور د زيارت کولو شوق پيدا شو نو د کور طرفته روان شو. د شپې چې کله کور ته اورسيدو او دروازه ئې اووهله نو د پردے نه شاته ئې د مور آواز راغے:" اے سفيانه! څوک چې د الله پاک په لار کښې يو څيز وقف کړي هغه واپس نه اخلي. ما ته د الله پاک په بارګاه کښې پيش کړے ئې، اوس زه تا صرف د هغه په وړاندې ليدل غواړم. [1]

جان ودل یارب ہو قربانِ حبیبِ کبریا — اور ہاتھوں میں ہو دامانِ حبیبِ کبریا
ہم سیہ کاروں کی بخشش کی کوئی صورت نہیں — جُز ترے اے چشمِ گریانِ حبیبِ کبریا [2]

د اشعارو وضاحت: اے زمونږه ربه کريمه زمونږ زړونه او ځانونه دِ ستا په محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې قربان شي. او د هغوئي لمَن زمونږ په لاسونو کښې هميشه لرې ځکه چې زمونږ د ګناه ګارو د بخښنې صورت فقط د امت د پاره ژړيدونکے محبوب خدا محمد مصطفٰي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نورِ مصطفٰي برکتونه

د والدِ مصطفٰي حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په تندي کښې نورِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی

---

1 ...حکایتیں اور نصیحتیں، ص ۲۶۴۔
2 ...قبالۂ بخشش، ص ۶۰۔۶۱۔

عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځلیدلو، هغوئي به د دې برکتونه لیدل، یوه ورځ د خپل والدِ محترم حضرت عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په خدمت کښې حاضر شو او اوئې وئیل: زما نه دوه د نور رنړاګانې اُوځي او خورے شي، په هغې کښې یوه په مشرق او بله په مغرب باندې خوره شي بیا دا دوانړه د نور رنړاګانې ګول راتاؤ شي او د ورېَځې په شان شي، بیا آسمان کولاو شي او دوانړه رنړاګانې اسمان ته لاړې شي او په یو ساعت کښې واپس راشي، او زه چې کوم ځائے کښې کښینم د زمکې نه آواز راځي: اے هغه کسه په چا کښې چې نورِ مُصطَفیٰ د امانت په طور کیښودے شوے دے، په تاسو دِ سلام وي! کله چې په وچه زمکه یا د وچې ونې لاندې کښینم هغه فوراً تکه شنه شي او د هغې خاخونه په ما باندې راښکته شي، کله چې د هغه ځائے نه پاڅم نو واپس خپل حالت ته راشي. دا چې ئې واوریدل نو حضرت عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ اوفرمائیل: ځویه! مبارک شه! زما امید دے چې هغه نورِ مکرم د کوم چې مونږ سره وعده شوي ده، هغه به ستا نه ښکاره کیږي، ستا د پیدائش نه مخکښې چې ما کوم خوبونه لیدلي دي د هغې نه هم دا اشاره ملاویږي چې ته به د دوانړو جهانونو د ټولو نه زیات عزت والا رسولِ خدا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم والد جوړیږې.[1]

## د لات او عُزّٰی چغې سُورې

والدِ مصطفٰی حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ به چې کله هم د عربو د دوو غټو بُتانو "لات او عزّٰی" په خوا تیریدلو نو هغوئي به د پیشو په شان چغې وهلې او په ژړا کښې به ئې وئیل: اے هغه انسانه په چا کښې چې نورِ مصطفٰي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بطورِ امانت کیښودے شوے دے! ستا زمونږ سره څه تعلق! زمونږ او د ټولې دنیا د بُتانو

[1]...تاریخ الخمیس، الطبیعة الثالثة، ذکر ولادة عبدالله، ۳۳۱/۱.

هلاکت به د "محمد" صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دَستِ حق باندې کيږي.(1)

شک ان کے ایمان پہ کرنے سے پہلے یاد رکھو

مرے رسول کے والدہیں پیارے عبداللہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو اسلامي ورنړو!** الله پاک نبي کريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په داسې خاندان کښې راوليږو د چا په حسب و نسب کښې چې د هيڅ قسمه د پيغور خبره نه وه. د نبي کريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم والد او والده دوانړه د عربو د خاندان د بهترينو قبيلو، بهترين قوم او بهترين شاخ نه وو. دا هم حقيقت دے چې د رسول پاک صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله شجرۂ نسب محترمه او په نامورو شخصياتو باندې مشتمله ده، هغه ټول د خپل قوم سرداران او رهنما وو او په معاشره کښې ئې مرکزي حيثيت لرلو. د الله پاک د آخري نبي **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نيکونه ټول د يو الله پاک منونکي وو. په هغوئي کښې يو هم داسې نه وو چې د الله پاک نه علاوه د بل چا عبادت ئې کړے وو.

سيدِ دو عالم شاهِ اولادِ آدم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: چې کله هم خلق دوه ډلې شوي دي نو زه الله پاک په بهتره ډله کښې راوستے يم زه د خپل مور پلار نه داسې پيدا شوم چې د جاهليت د زمانے يوه خبره هُم ما ته نه ده رارسيدلې او زه د خالص نکاحِ صحيحه نه پيدا شوے يم، د آدم عَلَیْہِ السَّلَام نه واخله زما د والدينو پورې، زما نفس ستاسو ټولو نه افضل او زما والدين ستاسو د ټولو د والدينو نه بهتر دي.(2)

والدِ مصطفےٰ    جنتی جنتی

---

1...تاریخ الخمیس، الطلیعة الثالثة، ذکر ولادة عبد الله، ۱/۳۳۲.

2...فتاویٰ رضویه، ۳۰/۲۸۲.

ماٰدرِ مصطفےٰ جنتی جنتی
والدینِ مصطفےٰ جنتی جنتی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشقان رسول! مونږ واوریدل چې والدِ مصطفٰي حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په قریشو کښې او په خپلو ټولو ورونړو خویندو کښې اوچت مقام لرلو او د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور چې په کومو شاکانو کښې راغلے، هغه ټول د الله پاک په ذات باندې ایمان راوړونکي خلق وو. راځئ چې اوس د والدې ماجدې حضرت آمنه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا تذکره واورو چې الله پاک د خپل نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور د پاره دا څنګه منتخب کړه:

## د یمن د عالِم پیشنګوئي

د حضور صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نیکه حضرت عبد المُطَّلِب د خپل ځوئے حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د پاره فکر مند وو او د هغوئي د پاره د داسې زنانه په تلاش کښې وو چې د حسن و صورت سره سره د اعلٰي سیرت و کردار مالکه او په حسب و نسب او پاک دامنئ کښې هم مُمتازه وي. فرمائي: د ژمي موسم وو، مونږ د تجارتي قافلے سره یمن ته لاړو، هلته زبور شریف باندې ایمان لرونکي یو عالم سره زما ملاقات اوشو، د هغه په پوښتنې باندې ما اووئیل چې زه د قبیله قریش بنو هاشم نه یم. هغه زما د مخ بعضې حصو ته ډیر په غور اوکتل او اوئې وئیل: زه ګواهي ورکووم چې ستاسو په یو لاس کښې بادشاهت دے او په دویم کښې نبوت دے خو دا څنګه کیدے شي....!!! زمونږ د علم مطابق نبوت د بنو زهره په حصه کښې دے. بیا ئې اووئیل: کله چې تاسو واپس لاړ شئ

نو په بنو زهره کښې نکاح اوکړئ.[1]

## حضرت آمنه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا

"بنو زُهره" د قریشو د قبیلے یو شاخ دے، حضرت آمنه بنت وهب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہَا د چا تعلق چې بنو زُهره سره وو، د حسب و نسب او مقام او مرتبے په اعتبار سره هغه وخت کښې د ټولو زنانۇ نه افضله و اعلیٰ وه، الله پاک هغوئي ته ښکاره حسن و جمال سره سره اعلیٰ اوصاف و کردار او باطني کمالات هُم ورکړي وو، د عقل مندئ او هوښیارئ په وجه به هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا ته "حکیمه"وئیلے کیده.(2)

## د "آمِنه" نوم وضاحت

مُفسر قرآن مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: د آمنه معنیٰ ده: د ایمان والا بي بي یا امان والا بي بي یا امانت والا بي بي مزید فرمائي: "آمنه" کښې څلور حرفه دي: (۱) الف (۲) میم (۳) نون او (٤) ها. د الف نه الله طرفته اشاره ده، "میم" نه محمد طرفته ،" نون" نه د نور طرفته او "ها" نه هدایت طرفته اشاره ده.

تم سے ایمان و امانت اور امن
تم سے فیضاں، تم سے عرفاں آمنہ
آمنہ کے تین معنیٰ بالیقیں
با امانت، امن و ایماں آمنہ
تم سے اللہ و محمد ہیں عیاں

[1]...مستدرك، كتاب تواريخ المتقدمين...الخ، ذكر اخبار سيد المرسلين...الخ، ٤٩٧/٣، حديث:٤٢٣٢.

[2]...تاريخ الخميس، الطليعة الثالثة، ذكر تزوج عبد الله آمنة، ٣٣٥/١ بتغير قليلٍ.

نور و ہدیٰ تم میں پنہاں آمنہ ([1])

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د جاهلیت په زمانه کښې هم د پردے اهتمام

**امام** جلال الدین سیوطي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ کوم چې صرف نامور مصنف، بلند پایه مفسر، محدث، فقیه، شاعر، مؤرخ، او ماهرِ لُغت کیدو سره سره د خپلې زمانے مجدّد او ډیر لوئے عاشق رسول هم وو. د دې اندازه د دې خبرې نه هُم لګیدے شي چې هغوئي ته پینځه اویا ځله د بیدارئ په حالت کښې د خوږ او مدني آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زیارت نصیب شوے دے. او هغوئي یو داسې تفسیر لیکلے دے چې په هغې کښې ئې د لسو زرو نه زیات احادیثِ مبارکه نقل کړي دي د هغوئي د کتابونو تعداد د دوو سوو نه زیات دے او د والدینِ مصطفٰي په ایمان باندې ئې شپږ رسالے تصنیف کړي دي هغوئي فرمائي: حضرت سیّده آمنه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا پاک دامنه، پرده داره، او په کور دننه ژوند تیروونکي او د سړو سره د تعلق لرلو نه پرهیز کوونکي زنانه وه.([2])

## بےپردګي کول د بے وقوفو خلقو کار دے

**خوږو اسلامي ورونړو!** د اسلام نه مخکښې دور کښې کله چې صرف بے پردګي نه بلکه فحاشي هم عامه وه، د هغې زمانے متعلق الله پاک ارشاد فرمائي :

وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى (پ۲۲، الاحزاب: ۳۳)

ترجمه کنزالایمان: او بے پرده مه اوسیږئ لکه څنګه چې مخکښې د جاهلیت بے پردګي

---

[1] ...رسائل نعیمیه، دیوان سالک، ص۳۲ بتقدم وتأخر۔

[2] ...رسائل امام جلال الدین، مسالك الحنفا...الخ، المسلك الاول، ص۱۷۔

وه.

سبحن الله! اُمِّ مصطفٰي ، حضرت آمنه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا په داسې ماحول کښې هم باپرده و باحیا اوسیدله. معلومه شوه چې د لوئے عقل والا خلق د زمانے رِوند تقلید نه کوي بلکه د عقل او هوښیارئ نه کار اخلي او اعلٰي کردار و اخلاق خپلَوي او دا هم معلومه شوه چې د جاهلیت په زمانه کښې بےپردګي د بےعقلو بلکه د الټه عقل والا خلقو کار وو. ګنې د هغه وخت خلقو به پرده دارې زنانه حضرت آمنه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا ته "حکیمه" یعني عقل منده او هوښیاره" لقب ولے ورکولو. د سیده آمنه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا شان اوګورئ چې الله پاک هغه د خپل محبوب د پاره د مور په طور منتخب کړه، د سیده آمنه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا شان اوګورئ چې هغه په خپل قوم کښې د اعلٰي نسب والا وه. د سیده آمنه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا شان اوګورئ چې د خپلې زمانے د ټولو نه د نیکو صفاتو والا صحابیه زنانه وه. د سیده آمنه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا شان اوګورئ چې هغه د اعلٰي اخلاقو او کردار مالکه وه د سیده آمنه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا شان اوګورئ چې هغه انتهائي پاکیزه زنانه وه.

خوږو اسلامي ورونړو! مونږ واوریدل چې سیده، طاهره، والدۀ ماجده حضرت آمنه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا د جاهلیت په زمانه کښې هم باپرده اوسیدله. الله پاک د اسلام په ذریعه په زنانؤ باندې دا احسان اوکړو چې هغوئي ته ئې د پردے حکم اوفرمائیلو. او دا حکم په بیشمیره حکمتونو باندې مشتمل دے. پرده کول د زنانؤ د عزتونو حفاظت دے، پرده د زړونو د پاکوالي او طهارت ذریعه ده، پرده د زنانه د فطري حیا تقاضه ده، پرده د جدید سائنس په اعتبارسره د مخ څرمن د نمر د شعاع ګانو نه بچ کوي، پرده څرمن د ګرمئ د ګرم والي د سوزیدو نه او خرابیدو نه بچ کوي. او پرده د مخ د بیمارو باعث جوړیدونکي خاورې نه او د ذراتو نه بچ کول کوي.

خوږو اسلامي ورونړو! د دې خبرو د بیانولو مقصد دا دے چې مونږ په خپلو کورونو

نظر واچوو. چې چرته زمونږ په کورونو کښې خو د بےپردګۍ خرابي نشته، که داسې وي نو چې بيا مونږ هغوئي ته د نيکۍ دعوت ورکړو او پرده پرې شروع کړو، ځکه چې بےپردګي جهنم ته د بوتللو ذريعه ده او مونږ ته قرآن حکيم کښې الله پاک ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ

(سورۂ تحریم، پارہ۲۸، آیت۶)

[مَفہُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان:: اے ايمان والو خپل ځانونه او د خپل کور کسان بچ کړئ د هغه اور نه د کوم اور خشاک چې انسانان او کاڼړي دي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ يو کرامت

د حضرت آمنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا والد حضرت وهب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ يوه ورځ د ښکار د پاره ځنګل ته لاړو، هلته هغوئي عجيبه منظر اوليدو چې حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د ښکار د پاره راغلے وو، په ځنګل کښې يواځې دے او د يهوديانو تقريباً لس کم سل کسانو ښکاره تُورې په لاس دي او هغوئي ئې راګير کړے دے. حضرت وهب فرمائي: ما چې يو قريشي ځلمے په مشکل کښې اوليدو نو زه د هغه د مدد کولو د پاره روانيدو والا ووم چې ناڅاپه څه په اسونو سواره خلق راښکاره شول او هغوئي د انسانانو په شان نه وو، هغوئي د راتللو سره په يهودي دستے باندې حمله اوکړه او يهوديان اوتښتيدل او هغه خلقو والدِ مصطفي حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپل کور ته په حفاظت اورسولو.[1]

---

[1]…تاریخ الخمیس، الطبعة الثالثة، ذکر تزوج عبد الله آمنة، ۱/۳۳٤ بتغیر قلیلٍ.

# د حضرت عبدالله و حضرت آمنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھَا نکاح مبارکه

حضرت وهب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ چې دا منظر چې اولیدو نو د حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه ډیر زیات متاثره شو او په زړهٔ کښې ئې دا پخه اراده اوکړه چې د خپل زړهٔ ټکړه حضرت آمنه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھَا به د دهٔ په نکاح کښې ورکوم. کور ته چې راغے نو خپلې زوجه یعني د حضرت آمنه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡھَا مور حضرت بِرّه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡھَا ته ئې ټوله واقعه بیان کړه او اوئې وئیل: عبدالله د قریشو د ټولو نه ښکلے او خائسته او اعلٰی نسب والا ځلمے دے، زه د خپلې لور د پاره د هغه نه علاوه بل څوک نه خوښوم. بیا ئې د خپل زړهٔ تمنا حضرت عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ته اورَسَوَله، د الله پاک شان ته ګوره چې حضرت عبد المُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د خپل ځوئے حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د پاره ښځګه زنانه تلاش کوله، هغه ټول صفتونه په حضرت آمنه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡھَا کښې په کامل طور باندې موجود وو، لهٰذا حضرت عبدالمطلب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ دا رشته ښه په خوشحالئ سره قبوله کړه.[1]

چنانچه د (24) کالو په عمر کښې د حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د حضرت آمنه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡھَا سره نکاح اوشوه.[2]

آئی ندا کہ آمنہ جاگے تیرے نصیب
آئیں گے تیری گود میں اللہ کے حبیب
گودی میں تو کھلائے گی آج اپنے لال کو

1…تاریخ الخمیس، الطلیعة الثالثة، ذکر تزوج عبد الله آمنة، ۳۳۴/۱ بتغیر قلیلٍ.
2… سیرت مصطفٰی، ص۵۹ بتغیر قلیل۔

اللہ نے کیا ماہِ کامل ہلال کو [1]

| | |
|---|---|
| والدِ مصطفٰے | جنتی جنتی |
| مادرِ مصطفٰے | جنتی جنتی |
| والدینِ مصطفٰے | جنتی جنتی |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د الله پاک وليه سيده آمنه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا

د الله پاک وليه سيده آمنه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا ته دا شرف حاصل وو چې د ولادت په ورځو کښې به ورته هره مياشت د انبياء کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام زيارت کيدلو. دالله پاک وليه سيده آمنه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا ته دا شرف حاصل وو چې د ولادتِ مصطفٰي په وخت کښې ئې د مکے معظمے نه د شام محلات اوليدل. د الله پاک وليه سيده آمنه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا ته دا شرف حاصل وو چې هغې د ابابيلو له طرفه د اصحاب فيل د وهلو واقعه ليدلې وه. د الله پاک وليه سيده آمنه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا ته دا شرف حاصل وو چې هغې د نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وړوکوالي کښې د هغوئي د نبي کيدلو تصديق فرمائيلے وو.

## والدين مصطفٰي صحابيان دي

خوږو اسلامي ورونړو! د نبيانو د سلطان رسولِ ذيشان صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند کښې په ويښو سترګو د ايمان په حالت کښې زيارت کوونکو او د ايمان په حالت کښې د دنيا نه تلونکو ته صحابي وائي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! والدينِ مصطفٰي صحابيان

---

[1] ...مرآۃ المناجیح،۸/۲۱۔

دي او ځومره عجیبه صحابه دي، رسول الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک په عطا سره هغوئي راژوندي کړل، خپل مخ مبارک ئې ورښکاره کړو، کلمه ئي ورته اووئيله او په خپل امت کښې ئې شامل کړل، او درجه د صحابيت ئې ورکړه. داسې صحابيت د بل چا په برخه کښې نه دے راغلے.

## د اهلِ سنت دوه ريښتونې عقيدے

اے عاشقانِ رسول! "صحابه" ډير د لوئے مرتبے والا دي. قرآن و حديث نه ثابتې د اهلِ حق اهلِ سنت والجماعت دوه عقيدے دي: (۱): ولي چې ځومره هم د لوئے مرتبے والا وي، د صحابي مرتبے ته نه رسي. (۲): ټول صحابه کرام جنتيان دي، هغوئي به د جهنم معمولي شان آواز هم نه اوري.

| | |
|---|---|
| ہر صحابیِ نبی! | جنتی! جنتی! |
| والدینِ نبی! | جنتی! جنتی! |

اے عاشقان رسول: آيا تاسو د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم شان پيژنئ! د صحابؤ شان دا دے چې د هغوئي د عزت کولو حکم د الله پاک آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے:[1] د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم شان دا دے چې هغوئي ته په امت کښې د ټولو نه زيات عزت والا فرمائيلے شوي دي.[2] د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُم شان دا دے چې د هغوئي ليدونکي به اور نه مَس کوي.[3] د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم شان دا دے چې هغوئي سره مينه کول د الله پاک د رسول سره مينه کول

---

[1] ...ترمذی، ابواب الفتن، باب ماجاء فی لزوم الجماعة، صفحه۵۲۲، حدیث:۲۱٦۵

[2] ...ترمذی، ابواب الفتن، باب ماجاء فی لزوم الجماعة، صفحه۵۲۲، حدیث:۲۱٦۵

[3] ...سنن الترمذی، باب ما جاء فی فضل من رای النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم، صفحه۸٦۹، حدیث:۳۸٦۲

دي او هغوئي سره بُغض كول د الله پاک د رسول سره بُغض كول دي[1] او د هغوئي دفاع كولو والا به په ورځ د قيامت د الله پاک د آخري نبي محمد عربي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حفاظت كښې وي.[2]

والدين مصطفٰي صحابيان دي او هر صحابي جنتي دے. والدين مصطفٰي صحابيان دي او صحابه د دې امت د ټولو نه بهترين افراد دي. والدين مصطفٰي صحابيان دي او هر صحابي د دې امت د پاره امان دے. والدين مصطفٰي صحابيان دي او هر صحابي سره مينه كول د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره مينه كول دي. والدين مصطفٰي صحابيان دي او هغوئي سره بغض كول د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره بغض كول دي. والدين مصطفٰي صحابيان دي او كوم صحابي چې كوم ځائے وفات شي صبا په ورځ د قيامت به د هغه ځائے اوسيدونكو د پاره پيشوا او نُور وي.

حكيم الامت، مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د نبيانو د سردار، د مدينے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پيدائش نه مخكښې د هغوئي د تشريف آورئ شُهره وه. خلقو د هغوئي د نُبُوَّت، او د هغوئي د بُت شكنئ او نورو صفاتو خطبے وئيلې، حضرت عبدالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ډير عجائبات پخپله اوليدل. سيده آمنه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا به د ولادتِ پاک په ورځو كښې ډير عجائبات ليدل د اصحابِ فيل عجيبه واقعه ئې اوليدله چې د فيل ډله ابابيلو مړۀ كړل، هره مياشت به يو پيغمبر په خوب كښې حضرت آمنه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا ته د حضور د ولادت خوشخبري، او د هغوئي د اوصافو خبر وركولو هغې د ولادت مصطفٰي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وخت كښې د مكّے مُكَرَّمے نه د شام محلات

---

1 ... سنن الترمذی، باب فیمن سب اصحاب النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، صفحه۸۷۰، حدیث:۳۸۶۶

2 ... فضائل صحابه لاحمد بن حنبل، جلد۱/ ۶۳

اوليدل. هغې د خپل ګل د نبوت د اعلان کولو نه مخکښې د هغه د نبي کيدلو تصديق فرمائيلے وو لکه څنګه چې

يو ځل حضرت حليمه سعديه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا د حضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د والدې حضرت آمنې رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا ته عرض اوکړو چې ستا د زړۀ د ټکړے سينه کولاوه کړے شوه، زه اُويَريږم نو هغې اوفرمائيل: مه ويريږه! دا ريښتونے نبي دے، دوئي ته شيطان يا د هغه نه علاوه هُم بل څه نقصان نه شي ورکولے. نو اے محترمو اسلامي ورونړو چاته چې الله پاک د دې خبرې علم ورکړو چې د هغې ځوئ آخري نبي دے آيا د هغې په ايمان کښې څوک شک کولے شي؟

والدينِ مصطفٰي په الله پاک باندې ايمان لرلو والا وو او يو الله منونکي وو ځکه خو د هغوئي نومونه عبدالله او آمنه وو. عبدالله معني ده د الله بنده او د آمنه معني ده د الله پاک امانت والا يا دنيا ته امن ورکولو والا بي بي يا ايمان والا. دا نومونه ښائي چې هغوئي په خپل رب باندې ايمان لرلو او د شرک نه پاک وو.

| | |
|---|---|
| والدِ مصطفےٰ | جنتی جنتی |
| مادرِ مصطفےٰ | جنتی جنتی |
| والدینِ مصطفےٰ | جنتی جنتی |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دولسو ديني کارونو کښې يو کار: هفته واره اجتماع

**خوږو اسلامي ورونړو!** په زړۀ کښې د مدينے عشق زياتولو، يادِ مدينه، ذکرِ مدينه کولو، د ګناهونو او فضولياتو نه بچ کيدلو، ښه، بامقصده، او د سنتو نه ډک او د نيکيو والا ژوند تيرولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوت اسلامي ديني ماحول سره وابسته شئ او دولسو مدني کارونو کښې ډيره ډيره برخه اخلئ، ان شاءالله الکريم! په

دنيا او آخرت کښې به د دې بيشميره برکتونه درنصيب شي. د دعوت اسلامي په دولسو دِيني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع ده.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هر جمعرات په ورځ د ماښام د لمانځه نه پس او په بعضې مقاماتو کښې د ماسخُتن لمُونځ نه پس د دعوت اسلامي هفته واره د سنتو ډکه اجتماع کيږي، چې په هغې کښې تلاوت، نعت، بيان او ذکر و دعا کيږي او په آخره کښې د ښودلو او زده کولو حلقے هم لګي، دغه شان هفته وارې اجتماع کښې د نيکئ ګټلو او علمِ دين حاصلولو ښه موقع ملاويږي، تاسو هم ښه پوخ نيت اوکړئ چې ان شاءالله الکريم ! هر جمعرات به پابندئ سره ېخپله هم په هفته واره اجتماع کښې شرکت کووم او د نيکئ د دعوت په ذريعه به نور خلق هم راولم.

## د ټيبل ټينس شوقي څنګه سم شو....؟

د کراچئ اوسيدونکي يو اسلامي ورور متعلق بيان اوکړے شو چې هغه د مذهبي ذهن نه لرلو په وجه شپے ورځې په فضولياتو کښې تيرولې، د ګناهونو سلسله به هم وه، او د هغه د ټيبل ټينس ډير زيات شوق وو، د مازيګر کيدلو سره به په ټيبل ټينس کښې مشغول شو او بعضې وخت به دا سلسله د شپې ناوخته پورې چليده، يو ځل د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته يو اسلامي ورور هغه ته او هغه سره لوبه کوونکو ته د لمُونځ کولو او هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت پيش کړو، اسلامي ورور مسلسل هغوئي ته د نيکئ دعوت پيش کولو پيش کولو، آخر دا چې د ټيبل ټينس شوقين هفته واره د سنتو ډکه اجتماع کښې شرکت شروع کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هفته وارې اجتماع په برکت په ورو ورو د هغه زړۀ نرم شو، د هغه د زړۀ نه تور والے په ختميدو شو، هغۀ د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه اوکړه او فضول کارونه ئې پريښودل او د دعوت اسلامي پاکيزه ديني ماحول سره وابسته شو.

| | |
|---|---|
| یہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی | دِلائے گا خوفِ خُدا مدنی ماحول |
| تُو آ بے نمازی، ہے دیتا نمازی | خُدا کے کرم سے بَنا مدنی ماحول |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ايپلي کيشن تعارُف

## کلمه او دعا

اَلْحَمْدُ لِلّٰه د عاشقان رسول ديني تحريک دعوت اسلامي په ټوله دنيا کښې د سنّتو پيغام عام کولو د پاره کم و بيش سلو شعبو کښې مدني کار کوي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوت اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ د عاشقان رسول د پاره د ډيرو موبائل ايپلي کيشنز اجرا کړي دہ. د ماشومانو د تربيت د پاره يو ډير بهترين موبائل ايپلي کيشن په نوم د کلمه و دعا جاري کړے دے چې په دې کښې شپږ کلمے، خوږې خوږې دعاګانې او سنتونه و آداب په زړۀ راښکونکي انداز کښې پيش کړي دي. دا ايپلي کيشن په اردو او انګلش ژبه کښې دے. دا ايپلي کيشن د والدينو د پاره خپلو ماشومانو ته اسلامي ماحول ورکولو د پاره معاون و مددګار دے، لهٰذا د دې نه ښه ډيره فائده اوچته کړئ، نن صبا ماشومان ويډيو ګيمز او کارټون وغيره کتلو کښې ډير زيات وخت ضائع کوي، د دې ايپلي کيشن په برکت به ماشومان علمِ دين زده کوي، سنت و آداب به زده کوي. ان شاءالله

تاسو خپل قيمتي تجاويز او رائے د ايپلي کيشن په فيډ بيک باندې راکولے شئ. هم نن په خپل موبائل کښې دا ايپ انسټال کړئ او نورو ته هم د انسټال کولو مشوره ورکړئ.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د خوشبو يو څو سنّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلووم:

# د خوشبو سنتونه او آداب

**خوږو اسلامي ورونړو!** راځئ چې د خوشبو د سُنَّتو او آدابو په باره کښې د اوريدلو سعادت حاصل کړو: مخکښې يو فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ملاحظه کړئ: څلور څيزونه د انبياء په سنتونو کښې داخل دي: نکاح، مسواک، حيا او خوشبو لګول.[1] ☆ حضور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خوشبو تحفه نه واپس کوله.[2] ☆ د جُمُعے لمُونځ د پاره خوشبو لګول مستحب دي.[3] ☆ په لمُونځ کښې د رب کريم نه مُناجات کيږي د دې د پاره زينت کول عطر لګول مستحب دي[4] ☆ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هميشه ښه خوشبو لګوله او نورو خلقو ته به ئې هم د دې ترغيب ورکولو[5] ☆ ناخوشګواره يعني بد بوئي به نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نۀ خوښوله.[6] ☆ نارينۀ له په خپل لباس باندې داسې خوشبو لګول پکار دي چې د هغې خوشبو خوريږي خو د رنګ وغيره داغ ئې نه ښکاري.[7] ☆ د زنانۀ د پاره د خوشبو ممانعت په هغه صورت کښې دے چې هغه خوشبو پردو نارينۀ ته اورسي، که هغه په کور کښې عطر اولګوي او د هغې خوشبو خاوند يا اولاد، مور پلار ته رسيږي نو څه حرج نشه.[8] ☆ اسلامي

---

1 ... مشكاة المصابيح، كتاب الطهارة، باب السواك، ۱/۸۸، حديث: ۳۸۲

2 ... سنتیں اور آداب ص ۸۵

3 ... بہارِ شریعت ۱/۷۷۴، حصہ ۴ ملخصاً

4 ... نیکی کی دعوت، ص ۲۰۷

5 ... سنتیں اور آداب ص ۸۳

6 ... سنتیں اور آداب ص ۸۳

7 ... سنتیں اور آداب ص ۸۵

8 ... سنتیں اور آداب ص ۸۵

خويندو له داسې خوشبو لګول نه دي پکار چې د هغې خوشبو په غير محرمه باندې لګي[1]☆ فرمان مصطفے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: زنانه چې کله خوشبو اولګوي او د يو مجلس په خواه کښې تيرېږي نو هغه داسې داسې ده يعني بدکاره ده.[2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[3] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1 ... سنتیں اور آداب ص ٨٦

2 ... ترمذی، کتاب الادب، باب ما جآء فی کراہیۃ خروج المرأۃ متعطرۃ، ٣٦١/٤، حدیث: ٢٧٩٥

3... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص ١٥١ ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1... القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

---

1...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

3... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵